# د یوناما خبری کنفرانس

**د ملگرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

## مطبوعاتی کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**ښاغلی سکندر خان، د ملگرو ملتونو د ماشومانو د پانگی د دفتر مرستیال په افغانستان کی**

*کابل، د فبروری د میاشتی ۲۵ نیټه کال ۲۰۰۸*

**افغانی ماشومان نوي تعلیمی کال ته د ملګرو ملتونو په مرسته سترګی په لاره دي.**

تمه کیږي چې نوي تعلیمی کال کې کوم چې د حمل د میاشتی په لومړی نیټه به پیل شي، ۶ میلیونه افغاني ماشومان ښوونځیو ته ولاړ شي. د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهی صندوق د لومړي تر دریم ټولګیو زده کوونکو ته د لوست مواد او د ښوونکو لپاره بستی تیاری کړي. بر سیره پر دي یونیسف پلان لري چې په دغه تعلیمی کال کې د پوهنی وزارت سره د ۲۹۸ ښوونځیو په بیرته جوړولو، د ۴۸۰۰۰ استازانو روزل مرسته وکړي او د تعلیمی نصاب کتابونو ته پراختیا ورکړي. په تیر کال کې یونیسف ۳۶۰۰ د ټولنو پر بنسټ ښوونځیو سره په لیری پراته کلیو کې مرسته کړی، نوي کتابونو ته یې پراختیا ورکړي، ۵۳۰ خیمی د ټولګیو لپاره ویشلی او ۴۰۰۰ توري ډړی ورکړي.

د افغانستان د پوهنی وزارت د خبر له مخی په راتلونکی کال کی ښوونځیو ته د ماشومانو د شمیر اټکل نږدی ۶،۲ میلیونه دي، چې په تیر کال کې ۵،۷ میلونه وو. ښوونځیو ته د ماشومانو د لیږلو د ځرګندو بریاوو سره سره بیا هم جدی ننګونی لا په مخکی دي. یونیسف اټکل کوي چې د لومړنی ښوونځی سن د ماشومانو دریمه برخه مجبور دي چې د خپلو کورنیو د مرستی لپاره کار وکړي. د جنسیت توپیر لا هم یوه ستونزه ده. چې د لومړنیو ښوونځیو د ماشومانو له ډلی څخه ۳۲ فیصده یې هلکان او یوازي د هغه په مقابل کی ۱۳ فیصده نجونی دي. د یو غبرګون په ترځ کې د افغانستان د نجونو د زده کړي نوښت تیر کال پیل شو او یونیسف په دی مقصد د دولت سره مرسته کوي چې سږ کال ۳۳۰۰۰۰ نوری نجونی په ښوونځی کې شامل شی.

ملګري ملتونه په افغانستان کې پر ښوونځیو د بریدونو او په ځینو ټولنو کې د ګواښ له امله چې موخه یې د کورنیو لخوا څخه ښوونځیو ته د ماشومانو نه استول دی او همدارنګه کیدای شي دا کار د پوهنې په سکتور کې ځینې غټې لاس ته راوړنې د ګواښ سره مخامخ کړي، اندیښنه لري. ښوونځي د بیا رغونې او پرمختګ ښکاره نښې دي او ځینې کسان د دا ډول پرمختګ څخه ویره لري. ټولنې باید پخپله د دا ډول ستونزو د حل لارې ولټوي، یونیسف اداره د سیمه ییزو مشرانو، د کلیو مشرانو او مذهبی مشرانو سره په دوامداره خبرو اترو لګیا دي ترڅو هغه لارې چارې را څرګندې کړي چې د ښوونځیو څخه ساتنه وشي او د پوهنې لړۍ دوام ومومي. ټولنې غواړي د هغوي ماشومان زده کړې وکړي او هغوي د زده کړې ارزښت درک کړي او دا د میلیونونو ماشومانو هغه غوښتنه ده چې پدې نږدې کې به ښوونځیو ته ستانه او یا به د لومړی ځل لپاره په راتلونکې میاشت کې ښوونځیو ته ولاړ شي.

**یونیسف:** د هر څه لومړی تاسو ته ښه راغلاست وایم، لکه څنګه چې تاسو ګورئ دلته یو شمیر فعالیتونه دوام لري، د ځنډ په هکله بخښنه غواړم، موږ فکر کاوه چې تاسو به کافی وخت ولرئ ترڅو په غور سره شاوخوا وګوري چې دا شیان څه ډول سره یو ځای کیږي او له دغه ځایه څخه د هیواد بیلا بیلو برخو ته استول کیږي. لکه څنګه چې تاسو پوهیږئ موږ د نوی تعلیمي کال کوم چې د مارچ د میاشتې په ۲۲ نېټه پیل کیږي د یوې میاشتې څخه لږ وخت لرو، خو تاسو اساساً پوهیږئ چې په هیواد کې د ښوونځیو د پیل لپاره د پیل دوه نقطې موجودې دي، ځکه چې د مارچ په ۲۲ نېټه په ځینو سیمو کې هوا سړه وي خو بیا د سپټمبر په میاشت کې په ځینو نورو ځایونو کې هوا ګرمه وي.

د پوهنې د وزارت په اټکل، تمه کیږي چې سږ کال به نږدې ۶ میلیونه ماشومان ښوونځیو ته ولاړ شي، هغوي به د زده کړې، لوبو او خپل ماشومتوب څخه به خوند واخلي. تیر کال یعنی ۲۰۰۷، نږدې ۵,۶ میلیونه ماشومان ښوونځیو ته ولاړل. په ټولیزه توګه باید وویل شي که چیرې تاسو د هغو ماشومانو تناسب په پام کې ونیسي کوم چې ښوونځیو ته ځي، نو بیا د هلکانو او نجونو تر منځ توپیر څرګندیږي، موږ کولای شو پدې هکله تاسو ته د بیلا بیلو کچو په هکله معلومات درکړو، که چیرې تاسو د لومړی ټولګی څخه بیا تر څلورم ټولګي پورې پام وکړي نو د هلکانو او نجونو د پام وړ شمولیت به تر سترګو کړي او کله چې تاسو

لوړو ټولګیو ته وګوریٔ نو د نجونو د تناسب د میزان کچه راټیټیږي او د هلکانو د میزان کچه په لوړیدو شي.

دا زموږ ټولو، افغانانو او افغان ماشومانو لپاره یوه ستره ستونزه ده. د ماشومانو برابری چي هغوي نجوني او یا هلکان دي، ښوونځیو ته ځي، هغوي ټول ښوونځیو ته ځي او د ښوونځي د پروسي څخه راوزي، نو هغوي نه یوازي د خپل پرمختګ سره مرسته کوي بلکه د هیواد د بیا رغوني د پروسي سره هم مرسته کوي.
لکه د پخوا په پرتله سږ کال به هم د یونیسف اداره د پوهني د وزارت او د نوموړی وزارت د هڅو څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړي. موږ به د ستونزو د کلیدي برخو څخه ملاتړ وکړو. زه به د دې ډول ستونزو په هکله لنډ معلومات درکړم.

لکه څنګه چي ما د مخه یادونه وکړه، د نجونو د شمولیت کچه خورا ټیټه ده، یونیسف به د پوهني د وزارت، د ټولنو پر بنسټ د ښوونځیو څخه ملاتړ وکړي ترڅو نجوني د ښوونځیو د مناسب او خوندي چاپیریال ته د لاس رسي د تر لاسه کولو یو فرصت تر لاسه کړی چي د ښوونځیو د تکمیلیدو څخه وروسته هغوي هم وکولای شي د هیواد د بیا رغوني په پروسه کي برخه واخلي.

د تیرو څو کلونو په ترڅ کي یو زیات شمیر نوښتونه د ارزانه ښوونځیو د جوړولو په برخه کي د پوهني د وزارت تر رهبری لاندې رامنځ ته شوې او د دې ډول ارزانه ښوونځیو جوړول به سږ کال هم دوام ومومي.
لکه څنګه چي موږ ټول پوهیږو، د پوهني د وزارت په د ننه کي زموږ په وړاندې د سترو ستونزو له جملي څخه یوه هم د روزل شویو ښوونکو کموالی دی، د ښوونکو د روزني لړی به هم د پوهني د وزارت په ملاتړ دوام ومومي ترڅو زیات روزل شوي ښوونکي وروزل شي نو کیدای شي د زده کوونکو لپاره د کار زیات فرصتونه برابر شي.

موږ همدارنګه اړیو تر څو په هیواد کي د پوهني د کیفیت کچه لوړه کړو ترڅو د ښوونځیو د سیستم څخه ښه نتیجه تر لاسه کړو او دا هغه کار دی چي موږ به یې د نوي تعلیمي نصاب د جوړولو په برخه کي د پوهني دوزارت سره ترسره کړو.

زه ډاډه یم چي تاسو او نور ټول به د هغه ظرفیت چي د تیرو څو کلونو په ترڅ کي په تدریجي توګه بشپړ شوي شاهدان و اوسي، او دا ظرفیت باید لا نور هم پیاوړی شي ترڅو په هیواد کي د با کیفیته نړیوال معارف د وړاندې کولو لپاره لارې چارې ولټوي او موږ به د خپله اړخه خپلو هڅو ته دوام ورکړو.
یو بله ننګونه زموږ په مخ کي په دې هیواد کي هغه ۷۰ سلینه بې سوادي ده چي زموږ د ژوند د نورو ډیرو برخو لپاره یو ستره ننګونه ده او هغه په اصل کي یوه د هغو کلیدي ساحو څخه ده چي په هغو کي د ښځو بې سوادي ۸۶ سلینه ده. نو دا مرسته به هم د پوهني وزارت ته ورکړل شي او زه باید له مرستندویانو، شریکبانو، له تاسو، له ښوونکو، میندو او پلارونو، ځایي ټولنو او بل هر چا څخه مننه وکړم، چي په مخه راغلي دي او هغوي به د ښوونځي د راتلونکی کال په لور خپلو هڅو ته دوام ورکړي.
یوازې چي ونډې مو یادې کړې وې هغه دا ده چي ۲۱،۱ میلیون ډالرو په ارزښت مرسته په ۲۰۰۷ کي شوې وه. البته دغه ټول څه نه دي او ډیر اندازې نورې پیسي هم دي چي له وزارت او سرچینو له خوا یې مرسته شوې. خاصي مننې د جاپان، ناروې او سویډن او د یونیسف د یو شمیر ملي کمیټو څخه او یو شمیر موضوعي پانګې هم شته چي هغه نړیوالې پانګې ده چي له هغو څخه یاد شوې پیسې راغلي. زه ښښنه غواړم

که چیرې ما هیر کړې وي چې کاناډا او یو شمیر مرستندویان یاد کړم او د دوي د پرلپسي مرستو یادونه وکړم چې موږ ته یې راکړي، ځکه چې د دغو مرستو له کبله موږ توانیدلی یو چې یو شمیر هغه شیان لاس ته راوړو، له کومو څخه چې ما یادونه وکړه، خو په دې لړ کې یو لو لست موجود دی، چې موږ به ډیر خوشحاله یو چې له تاسو سره یې شریک کړو. زه به ډیر وخت و نه نیسم او یوازې د یو څو شیانو په اړه به لنډه یادونه وکړم چې د ۲۰۰۸ کال لپاره مو په پام کې نیولی دي. په اصل کې د ۲۰۰۸ کال لپاره هغه څه چې دلته زموږ شاته واقع کیږي او د هیواد په ځینو نورو برخو کې او تاسي به یې و وینئ چې وده کوي او دغه ټوله بودجه ۲۶،۱ میلیون امریکایي ډالر دي چې د ټول د حکومت د ستراتیژۍ د مرستي او ملاتړ لپاره دي، چې تاسو له هغې څخه ټول خبر یاست، چې دولت څو میاشتي پخوا اعلان کړې وه. د ۲۶،۱ امریکایي ډالرو څخه موږ ۱۱ میلیونه ډالره په حاضر وخت له بیلا بیلو سرچینو څخه لرو د یونیسف د نړیوالي پانګي په ګډون. د ۱۵ میلیون امریکایی ډالرو کمښت شته، د دې لپاره چې مناسب ډول هر چیرې په خپل وخت خدمات ورسوو، موږ دغو اضافه ۱۵ میلیونو ته اړتیا لرو، د دې لپاره چې موږ ټول پروګرام په بشپړه توګه سر ته رسولي وي.

له هغو مرستندویانو څخه د زړه له کومي مننه کوو چې دغه ۱۱ میلیونه امریکایي ډالر یې راکړي دي، چې اوس مو په لاس کې دي او د نورو مرستندویانو مرستي ته هم په هیله منډۍ سره ګورو، ترڅو په دې ترتیب موږ وکولای شو په واقعي توګه د بودجي هغه اندازه بشپړه کړو چې د مخه یې یادونه وشوه. زما سره ډیر تفصیلات شته او دلته موږ یو شمیر همکاران لرو چې هغوي کولای شي چې ستاسو پوښتنو ته ځوابونه و وایي.

**د پوښتنو او ځوابونو برخه:**

**بی بی سی:** آیا تاسي د نن ورځې د پروګرام په باره کې د کمیت او لګښت په اړوند څه ویلای شئ؟

**یونیسف:** کوم شی چې تاسي دلته وینئ دا د هغو ۱۱۰،۰۰۰ د ښوونکو جعبې دي چې په ټول هیواد کې ویشل کیږي، موږ له د وخته د ښوونکو جعبې شمالي ولایتو کې ویشلي دي. د ټولو هغو جعبو شمیر چې موږ به یې سرږ و ویشو ۱۷۰،۰۰۰ جعبې دي. د ښوونکو او زده کوونکو د جعبو ټول لګښت کابو ۲،۸ امریکایي ډالر دی.

**پژواک:** آیا تاسي به دغه جعبې د هیواد نا امنو ولایتونو ته څرنګه رسوئ؟

**یونیسف:** موږ ټول د هیواد په ځینو برخو کې د امنیت له ستونزو څخه خبر یو، موږ لوژیستکي مرسته د ولایتونو مرکزونو ته رسوو، له هغه څخه وروسته د دغې مرستي رسول به د حکومت او د ټولني د شبکو کار وي.

**یوناما:** له تاسو ټولو نه مننه